مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ځېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۰۴/۰۹

# د موشګاف حمید څو بیتونه

د دیواني شاعرۍ په غزلونو کې هر بیت بېل شعري واحد دی. کېدای شي په یوه غزل کې پینځه یا اووه بیتونه بېله بېله مانا وښندي، په یوه کې د معشوق د ښکلا ستاینه وي، په بل کې د عاشق د نیاز خبره شوې وي، یو بیت له ساقي څخه جام غواړي او په بل کې د حکمت کومه خبره شوې وي. که څه هم کمشمېر داسې غزلونه هم شته، چې ټول یا ګڼ بیتونه یې د یوې محتوا بېلابېل اړخونه بیانوي. که د متن د رغښت له نظره پر دیواني شاعرۍ کره کتنه کېږي، نو د شننې لپاره ښایي هر بیت د یوه بېل سیستم په توګه وشنل شي.

عبدالحمید مومند (موشګاف حمید) د ادب‌تاریخ څېړونکیو د اجماع پربنسټ د ۱۰۸۰ کلونو په شاوخوا کې زېږېدلی و. په دې حساب د هغه د ژوند زمانه له موږ څخه درې‌نیم سوه کاله پخوانۍ ده. د نوې کره‌کتنې له معیارونو سره سم د یوه شاعر پر وینا د څه ویلو پرمهال ښایي د هغه زمانه او د ژوندچاپېریال ټولنیز، فرهنګي شرایط په کلکه په پام کې ونیول شي.

دې ټولو ته په کتلو به په دغه لیکنه کې د یاد موشګاف شاعر په ځینو بیتونو بېلګه‌یې شننه وکړو:

**۱ـ لومړی**

څه به بوی د عطرو نه‌کا زما ګوتې          چې یې دې د ګل‌اندام تنۍ پرانتې

دا بیت له دې اړخه په زړه پورې دی، چې د خپلې زمانې له دود شاعرۍ سره توپیر لري. درې – درې‌نیمې پېړۍ وړاندې د یوې حسي موندنې  Perception  داسې ژبنۍ تمثیل نادر ګڼلای شو.

شاعر وایي: زما ګوتې څکه د عطرو بوی کوي، چې د ګل‌اندام ( معشوقې/ معشوق) تنۍ مې پرې پرانیستلې دي. خو دا خبره په استفهامي بڼه پیلوي (ولې به مې ګوتې د عطرو بوی نه کوي؟) . په شعر کې انکاري استفهام په درېیو موخو کارول کېږي:

۱ـ چې ټاکلی ځواب ترلاسه شي. تشبیهي استفهام دېرځله د دې لپاره راځي، چې ټاکلی ځواب ترې ترلاسه شي، ځکه د مخاطب ذهن په مشبه تمرکز کوي او مشبه به د مشبه د ذهني موقعیت د تثبیت لپاره استخدامېږي.

حمید وایي:

دا یې ښاخ له ګل سره په تلوار پرې کړ
که له زړه سره مې ترکو لړمون وکیښ

ټول پوهېږو، چې اصلي مدعا په تلوار کې له ښاخ سره د ګل د پرې‌کېدو مشبه ده، خو مشبه‌به په انکاري استفهام کې ځکه راوستل شوې، چې ټاکلی جواب ترلاسه شي. عجیبه دا ده، چې د مرکبې تشبیه دواړه لورې یو د بل لپاره مشبه‌به ټاکلی شو. د ترکو له خوا له زړه سره د لړمون ایستل داسې دي، لکه په تلوار چې له ښاخ سره ګل پرې کړای شي. د تشبیه د دې کمال شنل، زموږ د موضوع برخه نه ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

۲- پر نفی دلالت وکړي:

**خدای خوبانو ته کاته کړه زما قوت**
**ځرنګ پرېږدم دغه قوت لایموت**

دا ساده انکاري استفهام دی، چې شاعر غواړي له دې څخه خپل انکار اعلان کړي، هیڅکله به د خپل ژوند قوت لایموت، چې هماغه خوبانو ته د کتلو قوت دی، پرېنه‌ږدي.

۳- د کلام پر جالبیت اغېز وښندي یا پر موضوع تاکید وشي. دا هماغه استفهام دی، چې موخه ورنه یوازې د خپلې مدعا د بلاغي اغېز زیاتول وي، لکه زموږ په پاموړ بیت کې:

**څه به بوی د عطرو نه کا زما ګوتې؟**

په دې استفهام کې شاعر نه له کوم څه انکار کوي او نه هم غواړي کوم تاکلی ځواب ترلاسه کړي، بلکې غواړي تلوسه وپنځوي، چې ولې به یې ګوتې د عطرو بوی نه کوي؟ خود به یې کوي، ځکه ده پرې د خپلې معشوقې تنی پرانیستې دي. اصلي مدعا خو دا ده، چې د معشوقې خوشبویي ثابته شي. خو هنر دلته دی، چې شاعر دا ټول د عیني تصویرجوړونې په یوه بهیر کې ترسره کوي. که حمید ویلي وای: « زما د معشوقې بدن ښکلی بوی لري.» دا به شعر وای؟
نه!
حمید همدا خبره بل ډول کوي، وایي: ما د معشوقې تنی په خپلو ګوتو پرانیستلي دي. په ګوتو د معشوقې د تنیو پرانیستل د مینې او معاشقې حالت تداعي کوي، هنري خوند همدلته هستیږي. بیا کله چې له خپلو ګوتو د معشوقې د عطرو حس اخلي ګواکې غواړي د معاشقې هغه خوند تصویري کړي او مخاطب ته یې ولېږدوي، پر دې برسېره په انکاري استفهام پوښتي: ولې به مې نو ګوتې د عطرو بوی نه کوي، چې د هغې تنی مې پرانیستي دي.

د فورمالیستانو له نظره د دغه بیت متن یو کامل سیستم دی، لکه یو خوځند ماشین چې هره برخه او رغښتي عنصر یې پر خپل ځای ډېر ښه تاکل شوی او د ټول سیستم په جوړښت کې خپله رغنده برخه لري. استفهام، تصویر جوړونه، حرکي او حسي میکانیکیت. د فورم له نظره په دغه بیت کې هېڅ برخه اضافي نه‌ده. ان هیڅه د وزن، قافیې یا ردیف د رعایت لپاره اضافي راغلي نه‌دي. د مفاهیمو اقتصاد یې په دې عالي دی، چې نه کوم څه کم دي و نه زیات.
د نوي زماني په شاعری کې داسې هنري متنونه زیات موندلای شو، خو د حمید په زمانه کې د حمید غوندې موشګاف او لوی شاعران داسې نوښت لرلای شي او بس.

په دې کې شک نه‌شته، چې د بیت مانیزه موخه د یوې اېروتیکي شیبې تمثیل دی. شاعر د خوشبویي تنی پر پرانیستلو غږیږي، خو موخه یې د تنی تر شا د ګل‌اندام هوس‌پاروونکی وجود دی، چې د لوستونکي ذهن مخامخ ځان وررسوي.
که شاعر دا خبره له استعاري اشارې پرته کړې وای، مثلاً ویلي یې وای: « د ګل‌اندامي بربنډه وجود ښه بوی لري.» ایا همدومره شاعرانه و ښکلی به وای؟ هیڅکله نه! د اېروتیک هنر په اړه یوه ایستیتیکي (ښکلاییزه) قاعده دا ده، چې د اېروتیک هنر هڅه بربنډول نه دي، بلکې پرعکس د بربنډتیا داسې پوښل او پټول دي، چې د موندونکي (ادارک کوونکي) شعور یا سوبژې تلوسه زیاته کړای شي. موشګاف حمید د معشوقې د جسم هېڅ یادونه نه‌ده کړې، بلکې د خپلو ګوتو د خوشبویي په اړه یې پوښتنه ځواب کړې: ځکه ښه بوی کوي، چې د معشوقې تنی یې پرانیستي دي، خو ګورو چې د موندونکي شعور ادراک مخامخ د معشوقې بدن تصور کوي. د دغه بیت بل کمال دا دی، چې عرفاني یا له مجاز څخه حقیقت ته د وررسېدو کومه هڅه هم نه‌کوي، بلکې ساده دنیوي مینه او د معشوقې ښکلا تمثیلوي.
بیت ریښتینولي لري. داسې ریښتینولي په کلاسیکه دیواني شاعرۍ کې نادره ده، په پښتو ادبیاتو کې د داسې ریښتینولۍ لوی شاعر خوشال خټک دی. دا بیت د حس‌امیزۍ کمال هم لري، په دوو مسرو کې خوشبویي د تنی پرانیستو له لامسې او د تنی تر شا د معشوقې د جسم د لیدو حسونه یوځای سره ګډ شوي دي.

په بیت کې ولې معشوق ته د ګل‌اندام خطاب شوی؟ مثلاً ولې جانان، صنم، یار، اشنا یا په بل نوم بلل شوی نه‌دی؟ د ګل‌اندام تشبیهي نسبت تصادفي نه، بلکې هنرمندانه انتخاب دی. هغه برخه وجود چې د تنی له شا ښکاري د ګل په شان ښکلی، نازک، خوشرنګ او تر ټولو مهم خوشبوی دی. ګل‌اندام د خوشبویي ادعا زباتوي. د ګل د پاڼو چاک د ګریوان له چاک سره مشابهت لري، په شرقي ادبیاتو کې د معشوقې ګریوان ډېرځله د ګل‌پاڼو له چاک سره تشبیه شوی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

صائب تبريزي فرمايي:

**به گلشن چون روی، بنما به گل چاک گريبان را**
**در باغ نوی بگشای بر رو عندليبان را**

که خوشبويي نقاشي کېدلای، د حميد پورتنی بيت به د نړۍ يوه ښکلي هنري تابلو وای.

**۲- دويم**

**يو به نهسم مغلواله د رقيب ستا** **که زوکړی وم ريښتيا له پښتنې زه**

د حميد ديوان د علومو د اکاډمی د نسخې ( ۱۳۶۳ لمريزچاپ) کې د دغه غزل په حاشيه کې يې په بېلابېلو قلمي نسخو کې د دې بيت لومړۍ مسرې دوه نورې بڼې هم ليکل شوې:

۱- يو به نسم مغلواری د رقيبانو
۲- يو به نسم مغلوار د رقيب ستا
په هرصورت، که دا نيمبيتي هرډول وي، مراد ورڅخه يو دی: د خپل رقيب ( يا د معشوق د رقيب) منفي خويونه، بدی، رخه يا زور به پرځان ونه‌زغمم. دا بيت له هنري پلوه ډېر ښکلی نه دی، خو په تاريخي او فرهنګي منځپانګه کې په زړه‌پورې او جالب دی. په دې بيت کې د «مغلواله» سيمبول د «پښتونواله» په وړاندې مهمه ده، چې ښايي د پښتني مثبت سيمبول په وړاندې د منفي خويونو د ټولګې په توګه کارول کيږي.

دا سمه ده، چې مغل/ مغول تر حميد وړاندې په پښتو شاعرۍ کې د پښتنو د دوښمنو په توګه زيات کارېدلی مفهوم دی. بابا هوتک (۶۶۱ هجري زېږېدلی) فرمايي:

**پرسورغر بل راته نن اور دی** **وګريه جوړ راته پيغور دی**
**پر کلي کور باندې مغل راغی** **هم په غزني هم په کابل راغی**

د بابا هوتک تر زېږېدو شاوخوا پينځه کاله وړاندې د چنګيزخان لمسي هولاکوخان بغداد راوپرځاوه او د عباسيانو روستی خليفه المستعصم بالله يې ووژه. د باباهوتک د ځوانی پرمهال چنګيزي يرغلګر په غور و غزني و زابلستان کې د پښتنو له پاڅونونو سره ښکېل وو. دغه زمانه له مغولي دوښمن سره د پښتنو د مخامختيا پيل ګڼلای شو، چې دويمه دوره يې د ګوډ تيمور او دريمه دوره يې د هيندوستان د مغولي واکمنو په وړاندې د يوه افغان ملي حاکميت د رامنځته کولو لپاره د پښتنو مبارزې وې.

حميد ته په نږدې زمانه کې د مغولو په وړاندې پوځي او فرهنګي مبارزه د پيرروښان له پاڅون څخه مشهوره شوه. تر پير روښان روسته نوموتی خوشال خان خټک دغه ملي مبارزه داسې ځای ته ورسوله، چې د افغان ملتپالنې تاريخي زړی په کې راوټوکېد. پيرروښان او د هغه پيروانو او خوشال خان خټک په خپلو شعرونو کې د مغولو او له مغولو سره د دوښمنی پرېمانه ذکرونه کړي دي:

**پس له بنده دی دا عزم** **د خوشال د خاطر جذم**
**يا نيولی مخ مکې ته** **يا مغولو سره رزم**

يا:

**پښتانه لره لوی عيب دی که يي ګوري**
**چي نازېږي د مغول په لقبونو**

پير روښان او خوشال بابا په خپلو مبارزو کې پښتنو ته دا تفهيم کوي، چې هغه مهال د دوی د هېواد او ملي واکمنی تر ټولو لوی دوښمن مغول دی. په دې توګه مغول د پښتنو په وړاندې د بدی او شر په يوه سيمبوليک مفهوم بدليږي. تر دې بريده چې په معاصره پښتو شاعرۍ کې هر ملي دوښمن او ان د هر پښتون فردي دوښمن مغول بلل کيږي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سلیمان لایق :

**ایمل» رېږدی پــه لحد کی، له غصی د زړه پــه تبه**
**چی مغول پــه خيبر وخوت، افريدي لا نــه پــوهــېږی**

اجمل ختک وايي:

**چي نشه د استبداد لري په سر کي**
**ماته يو دی که مغول دی که افغان**

ماته نهښکاري، چي تر حميد مخکي دي، بل پښتون شاعر «مغولواله» په داسي استعاري پيرايه کي راوړی وي. رقيب د ټولو بديو مجموعه ده او د رقيب د منفي کرکټر تمثيل په مغولواله کي کيږي. مغلواله داسي صفت دی، چي لوستونکی يي ترڅنګ ټول هغه منفي او بد خصايل ليدلی شي، چي شاعريي د ښوولو هڅه کوي. په وړاندي يي پښتونواله ده، چي شاعر يي د ځان صفت بولي. حميد په دې لوړه کوي، چي که يي د رقيب مغلواله پرځان يووړه، نو له پښتني به نهوي زوکړی. د حميد په زمانه کي د زوکړي د کلمي شاعرانه کول هم لوی کمال دی. بلکه کنايه دا ده، چي شاعر غواړي وښيي، چي پښتونواله د ټولو مثبتو خصايصو د يوې مجموعي په توګه له مور څخه بچو ته لېږدي. د هغي زماني (او ان د نن زماني) پرخلاف چي د اخلاقي صفاتو ميراث له پلرونو رارسېدلی بولي. حميد دلته پښتو او پښتونواله له مور څخه رااخيستي ګڼي.

**۳. دريېم**

**می باید د یار طلب په ترک وجود** — **نار له نوره دی بېل کړی دغه دود**
**د وجود تاريکي ليري کړه په نور** — **له حجابه ديدار شه راته وجود**

دا دوه بيتونه به د حميد د عرفاني او فيلوسوفيک تفکر په رڼا کي وڅېړو.

مشاء فيلوسوفي پر برهان ولاړه ده. په دې فيلوسوفيک ښوونځي کي د حقيقتموندني لپاره پر عقل ډېره تکيه کيږي، خو په وړاندي يي په اشراقي فيلوسوفي کي د برهان ترڅنګ شهود ته هم اهميت ورکول کيږي.

ارسطو د مشاء فيلوسوفي بنسټوال ګڼل کيږي، هماغسي چي د اشراقي فيلوسوفي لومړنی اخيستني د افلاتون د مُثل له نظريي څخه سرچينه اخلي. اشراقي فيلوسوفي په اسلامي نړی کي وځلېده او پر اسلامي عرفان يي ژور اغيز وکړ. شيخ شهابالدين سهروردي (۵۴۹- ۵۸۷ ق) چي په شيخ الاشراق مشهور و، د دې فيلوسوفي مخکښ دی. بلخي ابن سينا هم د ژوند په روستيو کي له مشائی فيلوسوفي څخه و اشراق ته ورمتمايل شو. د حکمةالاشراق په اسلامي فيلوسوفي کي د قرآن مجيد په دې آيت تمسک کيږي، چي: اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ. البته داسي هم نهده، چي د اشراق فيلوسوفي دې نو سل په سلو کي د همدغه آيت تفسير وي، خو د دغه حکمت له مخی هستي له الهي انوارو څخه سرچينه اخلي. له شيخ اشراق وړاندې او روسته د اسلامي عرفان سيرو سلوک په اسلامي نړی کي پر اشراقي حکمت خپل اغيز لاره. سهروردي د هستی سرچينه مطلق نور يا نورالانوار ګڼي، چي نور مراتب يي د همدې مطلق نور تجلي او وړانګي بولي. جسماني نړی د دغه نور په وړاندې سيوری يا تياره برخه ګڼل کيږي. روح ته له نورالانوار څخه د رڼا د رارسېدو څومره والی په دې پورې اړه لري، چي يو روح څومره ځان صيقلوي؟ د نور شدت او کمښت خپل مدارج لري. حقيقت او علم د نورالانوار له سرچيني څخه په شهودي او الهامي بڼه بېلابېلو اروا وو ته رارسيږي. په دې توګه زموږ د موندني ( په اپلاتوني منطق بيامونديني) ، درک او پېژند په برخه کي يوازې زموږ عقل او حواس نه، بلکي له پورته عالم څخه رارسېدلي شهودي وړانګي هم مهمه برخه لري.

په اشراقي فيلوسوفي کي جسم چي څومره ځان له مادي بندونو څخه خلاصوي، هومره د رڼا يا نور عالم ته ورنږدې کيږي (روښانيږي).

انساني روحونه له خپلي ارسرچيني څخه - چي مطلق نور دی- د جسم او نفس د تياري په وسيله بېل شوي دي، چي ټل هڅه کوي خپل اصل سره وصل شي او چي جسم فاني شي نو د رڼا وړانګي يوبل ته ورسيږي.
حميد همدا مفهوم په دغو دوو بيتونو کي په ډېر عالي او هنري بيان څرګند کړی دی.

په پورته بيتونو کي د «وجود» ويی ډېر جوت دی. په دواړو بيتونو کي دري ځله د وجود له مفهوم سره مخامخيږو، ريښتيا وجود څه دی؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولــئ

وجود (Existence) د هستی له لیدلوري یو رېښتنی موجود دی، چې د « باید وي»  او ناهستی (عدم) په وړاندې شته. وجود (حاضر/ شته) موجود دی او د «کېدو= شدن/ تکوین» په وړاندې درېږي او په اند کې عینیت مومي.
د عیني وجود په وړاندې بل وجود عقلي دی، چې په لاتین کې یې Ens Rationis بولي. دا هغه وجود دی، چې یوازې په اندېښنه کې د تفکر په وسیله شته، د سپینوزا له نظره «اراده» یو عقلي موجود دی. هایډگر هرهغه څه د وجود خاوند ګڼي، چې په نړۍ کې شته.  دی یې په جرمني  In- der- welt-sein بولي. خو د هستی د زبات شیوه ادراک ګڼي، چې په خپله هستی ادراک ولري. هایډګر د ادراک داسې خاوند وجود (دېزین Dasein) بولي.

چې لنډ یې ساده کړو، د وجود یوه مانا د هستۍ خاوند ادراک دی، چې د نیستی په وړاندې مانا مومي. وجود په عامه او ولسي ژبه هرهغه حجملرونکی شی دی، چې د فضا یوه برخه یې نیولې وي، ظاهراً په دې تعریف کې ګاز، هوا او عقلي وجود نه‌شي راتللی. که څه هم چې وجود یې ثابت دی. پښتانه وایي: وجود مې درد کوي، دلته وجود د ځان په مانا ده او د بدن د غړیو مجموعه ده. د حمید په پورته دوو بیتونو کې « وجود» په دواړو ماناوو رااخستل شوی، هم په فیلوسوفیک او عرفاني مفهوم او هم د جسم په مانا.

## مې باید د یار طلب په ترک وجود

په دې نیمبیتی کې وجود د هغې هستی په مانا ده، چې هایډګر یې تعریفوي. هغه څه چې فیزیک لري. د هستی په قلمرو کې شته. حمید وایي د یار(حق) په طلب باید دغه فیزیکي وجود پرېښوول شي. له فیزیکي وجوده وتل په وجودِ کُل یا مطلقه هستی کې ډوبېدل او ورکېدل دي، داسې چې په حق کې د فنا مرحلې ته رسیږي. حق ته د رسېدو  په هڅه کې د سلوک لومړی ګام د وجود ترک دی:

## د وجود تاریکي لیرې کړه په نور

په دې نیمبیتي کې وجود د جسم په مانا دی، دا وجود د عامو خلکو له نظره هغه وجود دی، چې درد کوي. حمید وایي دا وجود تیاره دی او یوازې له نورالانوار څخه د وړانګو اشراق دا تاریکي لرې کولای شي. پېژاند (شناخت) د نور لومړنی وړانګه ده، چې خاکي تیاره جسم (وجود) رڼا کوي.

## له حجابه دیدار شه راته وجود

دلته نو مطلق وجود ته رسېدل مراد دی، چې له حجاب څخه راوتلی دی. دا وجود مطلقه هستي یا پخپله حق دی.
حق ته رسېدل، څنګه د نور اخیستلو په مفاهیمو تمثیلیږي. په دې کې د حمید د موشګاف او هنرمن ذهن کمال لیدلای شو. دیدار چې یوه حسي پېښه ده، دلته وجود مومي، عیني کیږي.
متن به په برخو وویشو:
مدعا دا ده، چې باید د یار (حق) په طلب خوځښت پیل شي (مې باید د یار طلب په ترک وجود) دا لومړنی ګام ناممکن دی، مګر دا چې د فیزیکي وجود له خواهشاتو ان شتون څخه تېر شي، ترک یې کړي.

د دې لپاره چې دغه فیزیکي وجود وپېژندل شي، هغه یې له دود سره تشبیه کړی دی. دود د وجود استعاره ده، تږاو یې هم تیاره والی او د رڼا او اور ترمنځ په پوله کې موجودیت دی. نار که څه هم د رڼا سرچینه ده، خو مطلق نور نه دی. د مطلق نور ذات نوراني دی، نورالانوار په خپل ذات کې مانا مومي. نار د فیزیکي وجود هغه برخه ماهیت او هستي ده، چې فیزیکي وجود ته رڼا ببنلی شي خو د دغې مجازي رڼا او نورالانوار ترمنځ حایل او خنډ دود دی( نار له نوره دی بېل کړی دغه دود) ژوند داسې دی لکه دود؛ تیاره، تېرېدونکی او تریخ. دنیوي ژوند هغه نار چې – د نور له ذاته دی، خو مطلق نور نه دی- له نورالانوار څخه بېل کړی دی. نار باید له دغه دود څخه تېر شي، چې خپل اصل نور ( منبع‌الانوار)  ته ورسېدلای شي. نار ته بویه چې له نورالانوار څخه خپله برخه نور وغواړي، دغه برخه نور که د دود ( دنیایي ژوند) له پردې راتېر شي، نو د وجود تاریکي رڼا کولای شي (د وجود تاریکي لیرې کړه په نور) د دود له پړاو څخه تېرېدل د حجاب لرې کول دي او ترحجاب هاخوا د نورمطلق وجود ته لاره موندل کېدلای شي (له حجابه دیدار شه راته وجود).

حمید په خورا استادانه تمثیل د اشراقي حکمت له نظره خپل عارفانه نظر بیان کړی دی. دغه بیان په څلورو لنډو جملو کې د حمید په شان لوی شاعران کولای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**۴- څلورم:**

**را له را همسا د قد د زړه په لاس کي          په کوڅه کي ستا د زلفو شبکور پروت یم**

د بیان د علم له نظره په تخییلیه مکنیه استعاره کي هغه مشبهبه چي نه وي یاده شوي، خو ذهن انساني ځانګړنو ته رسوي، انسانواله Anthropomorphic استعاره بلل کیږي. لویدیزوال دي ډول استعاري ته پرسونیفیکیشن Personification وايي چي انسانډوله یا تشخیص یي هم ګڼلی شو. د حمید په پورته بیت کي «زړه» همداسي یوه استعاره ده. زړه لاس لري او د زلفو په کوڅه کي شبکور دی، په همدي پلمه غواړي د معشوقي د قدر همسا ترلاسه کړي. دا بیت د تشبیهاتو او استعارو په مرسته د حسي (عیني) څیزونو له ترکیب څخه د جوړو شویو عقلي(ذهني) تصویرونو یوه په زړه پوري بلاغي مجموعه ده، چي په یوه بیت کي داسي پوړپرپوړ راوړل یي د شاعرانه بلاغت اوج دی.

(د قد همسا) تشبیهي اضافه ده، چي مشبه او مشبهبه یوه په بله اضافه شوي ده، د تشبیه توري او د تشبیه وجهه پهکي نهشته. د بیان په علم کي داسي تشبیه هم مجمله ده او هم موکده. بلیغه تشبیه هم ورته وايي. د «زړه لاس» لکه ورانديمو چي وویل عقلي پرسونیفیکیشن دی، چي زړه پهکي د انسان غوندي لاس لري. (د زلفو کوڅه) د تیاري په اعتبار له یوي خوا د زلفو د اوږدوالي او توروالي لپاره مرکبه تمثیلیه استعاره ده او له بلي خوا د ذهني تصویرجوړوني یوه کمالي بېلګه هم ده. مېین د خپلي معشوقي د زلفو په کوڅه کي شبکور پروت دی، هسي پلمه کوي، چي شبکور دی، نهغواړي د زلفو له کوڅي وځي. د وتلو لپاره يي شرط دا دی، چي معشوقه ورته د قد همسا په لاس ورکړي. دوه تصویرونه پریوه مهال تداعي کیږي،

۱- یو شبکور انسان په یوه تیاره او اوږده کوڅه کي پروت دی.
۲- عاشق ځان د معشوقي په زلفو کي نغښتی او د نهوتلو لپاره پلمه لټوي.

راوي (شاعر) وایي د زلفو په کوڅه کي شبکور پروت دی، خو د معشوقي د قد همسا د زړه په لاس کي غواړي. د کلیت او جزئیت اړیکه ده. (زړه) جزء او (یم) کل دی. د مېني کور (زړه) دی. د قد همسا په لاس کي اخیستل د وصل لپاره مجاز دی. بس چي د زړه لاس ته د قد همسا ورسیږي، نو راوي به (چي شبکور دی) د زلفو له توري او اوږدي کوڅي څخه راووځي.

دا بیت د حمید د بلاغي کمال یوه داسي بېلګه ده، چي ښيي شاعر د معاني او بلاغت په تولو رموزو او صنعتونو څومره پوه او په کارونه کي يي لوی لاس لري.

**۵ پینځم**

**د سپوږمی د ډیوی کله پتنګان شته          زه به څرنګه ستا شوندي ښکلوم**

په دي بیت کي د دواړو نیمبیتیو د ترکیبي تشبیه د ارکانو تر منځ د مشابهت وجهه ظاهراً د واټن لرېوالی او د وصال ناشونتیا ته. سپوږمی لري ده او پتنګان نهلري، نو شاعر به هم همداسي د خپلي معشوقي شونډي ښکل نهکړای شي. که په همدي سادهګی يي وشنو، له دي ښکلي بیت سره به مو جفا کړې وي.

اشنايیتوړنه Defamiliarization د روسي فورمالیسم له نظره یوه مهمه هنري عملیه ده، چي زموږ ذهن او یا د ښکلاخوښووني غریزي تلوسه د درک یوه نوي چاپېریال ته بیايي. په دي چاپېریال کي اشنا او ان سولیدلي و کلیشهشوي عناصر په نوي موقعیت او بیلو اړیکو زموږ مخي ته راځي، ځکه خو په حافظه کي د پاتېدا امکان لري. له دغه نوي استدراکي موقعیت څخه هنري خاطره پاتیږي او نوی خوند لري.

ژبه د دال او مدلول ترمنځ د اړیکو تولنیز قرارداد دی. ادبیات او هنر د دال او مدلول ترمنځ همدا مخامخ اړیکه ماتوي او اړیکه يي د دال او مدلول ترمنځ د اړیکي موندلو په یوه پېچلي یا متناوبه عملیه بدلوي. په عامه ژبه کي «ګل» د یوه نبات یوه برخه ده، چي ښکلي ښکاري او موږ يي پېژنو. خو شاعر ډېرځله ګل یادوي او هدف يي معشوقه وي، دلته د ګل او انسان تر منځ د دال او مدلول اړیکه نامخامخ ده. تاسو باید دوه پړاوه په خپل ذهن کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

ووهئ، اول په دې پوه شئ، چې ګل ښکلی دی او معشوقه هم ښکلې ده، شاعر غواړي ووايي، چې معشوقه يې د ګل په شان ښکلې ده، بس همدا يې رالنډه کړې او وايي: «ګل مې راغی. » ښکاره ده، چې په بوټي کې نښتی ګل خو راتللی نه‌شي، نو هرومرو شاعر خپله معشوقه – چې د ګل په شان ښکلې ده – ښيي، چې راغله. کله چې شاعران پرلپسې خپله معشوقه په استعاري توګه په ګل بدلوي، نو موږ له دغه نوي دال او مدلول سره هم اشنا کيږو، په دې توګه د شاعرانو ځينې تشبيهات او استعارې هم د عامي ژبې په قرارداد بدلې شي. دا هنري تکرار پخپله د ژبنې قرارداد تر بريده موږ ته اشنا برېښي او هغه لومړنی خوند نه‌شي لرلای. د هنري خوند د پنځولو لپاره دغه اشنايي‌ګانې بايد وتورل شي. خو دا يوازې د تشبيهاتو او استعارو تر بريده نه، بلکې کله کله د عناصرو بشپړې مجموعې په نوي استدراکي چاپېريال کې ځای مومي او په دې توګه د اشنايي تورنې يوه پراخه دايره رامنځته کيږي.

حميد مومند په کلاسيکو پښتنو شاعرانو کې د اشنايي‌تورنې ګڼې بېلګې لري، غوره ده پخپله له ده څخه يوه بېلګه راوړو:

**بېهوده يې صبحدم بولي وګړي**
**دغه آه زما له غمه ګردون وکيښ**

د حميد تر دې بيت وړاندې زه په پښتو، پارسي يا بله ژبه کې له داسې تصوير سره مخامخ شوی نه يم. صبحدم له رڼا پېژندل کيږي، مرغۍ چغيږي، د سبا ستورى مخ په لويدو وي، سهارنۍ ورمې لګيږي، شبنم په ګلو پروت وي... دا د سهار ځانګړنې دي. سهار کوم غږ نه لري، چې د (آه) په شان واورېدل شي. بله خوا د مبين د زړه آه له تيارې، يا توند باد، يا د سمندر له څپو سره تشبيه کېدلای شي، ان له سوزنده اور او دود سره هم ډېر تشبيه شوی، خو د يوه ارامه او روڼ صبحدم اړيکه له (آه) سره څه ده؟

په دې بيت کې حس‌اميزي شته. د سهار له حس کولو سره د ( د باصرې، لامسې او شامعې) له لارې . خو د عاشق له غمه چې ګردون آه باسي، دلته نو د سامعې حس ورسره ګډيږي. د بيت د دې دواړو استدراکي توکو ترمنځ په اړيکه کې اشنايي‌تورنه يا  Defamiliarization  ګورو.

لومړی توکه: څه نښې نښانې شته، هوا روښانه، په ورمو مالامال، لمده او هيله‌ښونکې و وينوونکې ده، خلک فکر کوي، چې سهار شوی دی، خو خلک تېروتې دي، هسې فکر کوي سهار دی.

دويمه توکه : ګردون/ نړۍ/ طبيعت د عاشق شاعر له غمونو څخه دومره اغېزمن شوی، چې آه يې له ځيګره ختلی دی.

**پايله:**

دا په حقيقت کې د ګردون آه دی، نه سهار.

د دواړو توکو عناصر په خپلو منځونو کې د شاعرانه او هنري منطق له مخې اړيکې او تناسب لري، خو د دې دواړو توکو ترمنځ تشبيهي اړيکې زموږ له عادت او اشنايي سره توپير لري.

که يوازې (صبحدم) په (جهنم) بدل کړو، ګورو به چې شاعر يوه کليشه‌يي خو زموږ تکراري استدراک ته يوه اشنا تشبيه وړاندې کوي، په دې صورت کې به شاعر ويلي وای: دا د دوزخ لمبې او دودونه نه دي چې نړۍ يې په سر اخيستې ده، بلکې دا زما له غمه د ګردون آه دی. موږ له دې تشبيه سره اشنا يو، که په لومړي ځل ويل شوې وای، ښايي خوندوره او هنري به هم راته ايسېدلې وای، خو تر ډېره به زموږ په ايستيتيکه حافظه کې پاتې نه وای.

اوس يې چې د شاعر عاشق له غمه د ګردون آه له هغې تصويري توکې سره ورته ګڼلې چې وګړي يې بې‌ځايه صبحدم بولي، دلته نو زموږ ذهن د دې دواړو توکو په اړيکه پسې ګرځي. موږ غواړو دا اړيکه د شاعر په هنري منطق کې کشف کړو او پوه شو، چې شاعر ته د لومړۍ توکې د بيان پر مهال ولې دويمه توکه تداعي شوې ده؟
همداسې يوه اشنايي‌تورنه په هغه بيت کې هم شته، چې زموږ تر بحث لاندې دی، په دې بيت کې اشنايي‌تورنه لا نور پوړونه هم لري:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپلې ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## د سپوږمۍ د ډیوې کله پتنګان شته — زه به څرنګه ستا شونډې ښکلوم

سپوږمۍ ښکلې ده، روښانه ده، د معشوقې د مخ په شان ده یا د معشوقې مخ د سپوږمۍ په شان ده، عاشق یا معشوقه خپل راز د څوارلسم سپوږمۍ ته وايي، یا خوار عاشق د هلال په شان نرۍ دی او د بدر (څوارلسمي) سپوږمۍ معشوقې پسې ځوريږي... داسې ډېر شاعرانه تشبیهات، استعارې، تصویرونه و تمثیلونه مو لوستي او ورسره اشنا یو.

ډیوه او پتنګان هم د ختیزې شاعرۍ زیات کارېدونکي موتیفونه دي، عاشق لکه پتنګ ځان د معشوقې په جلوې سیزي. د معشوقې مخ لکه ډیوه روښانه او ښکلی دی او پتنګ یې په مینه کې ځان فدا کوي، کله کله شمع یا ډیوه د عاشق د انتظار په سېمبول بدل شي، د انتظار په شپو کې د معشوقې لاره رونوي، تر دې چې ژوند یې پای ته ورسیږي او داسې نور.

خو دا چې د اضافي تشبیه په بڼه دې سپوږمۍ له ډیوې سره تشبیه شوې وي، نوې کیسه ده او هغه هم په دې توپیر چې له ډیوې سره خو پتنګان ملګري وي، حال دا چې د سپوږمۍ د ډیوې خو پتنګان هم نه‌شته. که له ډیوې سره د رڼا او سپین‌والي په قرینه و وجهه شبه د سپوږمۍ مشابهت ومنو او بیا ووایو چې د ډیوې پتنګان شته، خو د سپوږمۍ پتنګان نه‌شته او د شاعر مدعا دا ده، چې د خپلې معشوقې مخ له سپوږمۍ سره تشبیه کړي او له ډیوې یې په دې صفت ممتازه وګڼي چې پتنګان هم نه‌لري او ګواکې شاعر هم خپل ځان پرې سیزلی نه‌شي، نو بیا یې له دویمې نیم‌بیتې سره اړیکه څه ده؟ « زه به څرنګه ستا شونډې ښکلوم» د لومړۍ نیم‌بیتې تر تحلیل روسته موږ د دې تمه نه‌لرو، چې د معشوقې د شونډو د ښکلولو له پوښتنې سره دې مخامخ شو. په لومړۍ نیم بیتې کې هم اشنايي توږنه شته او بیا په دویمه نیم‌بیتې کې موږ کاملاً له یوه بل استدراکي چاپېریال سره مخامخ یو. شاعر خپل مخاطب ته وايي: ته د سپوږمۍ هغه ډیوه - چې پتنګان نه‌لري- پربږده، دا وایه چې زه به څرنګه ستا شونډې ښکلوم؟

له بلاغي پلوه د تشبیهاتو، کنایو او استعارو د تحلیل په مرسته بالاخره موږ د بیت مانا ته رسېدلی شو، خو په دې منځ کې چې شاعر په کومه نوې لاره تللی او څومره اشنايي‌توږنه یې کړې ده، له همدې هنري پېچلتیا څخه خوند اخلو. شاعر وايي:

ته (معشوقه) داسې ښکلې، خو لرې یې لکه سپوږمۍ. اصلي مدعا د معشوقې استعلا ثابتول دي. ډیوه پر زمکه او نږدې وي، څکه نو پتنګان پرې ځان سیزي، چې ځان ورته رسولای شي. د شاعر معشوقه دومره لوړه، لرې او له لاسرسي بهر ده لکه سپوږمۍ، چې پتنګان په الوتلو وررسېدلی نه‌شي، لوړه او لرې ده. نو داسې یوې لوړې او لرې سپینې او ښکلې معشوقې ته رسېدل سخت دي، مېین شاعر چې غواړي د دغې لرې او ښکلې معشوقې شونډې ښکل کړي، نو وررسېدلای نه‌شي. د دې بیت د درک لپاره ذهن د څو قطبونو ترمنځ حرکت کوي، خوند د دغه منکسر حرکت په زاویو کې پنځیږي او همدا د فورمالیستي تحلیل اروا‌پوهنیزه شننه ده.

ذهن یوځل سپوږمۍ تصویروي، چې د ډیوې په شان روښانه ده، خو دومره لوړه ده، چې د ډیوې په شان پتنګان نه‌شي وررسېدلای، بیا نو د شاعر معشوقه هم همدومره ښکلې، سپینه او لرې ده، نو بیچاره مېین شاعر به یې څنګه شونډې ښکلوي؟

د حمید مومند ځینې بیتونه او ان ځینې بشپړ غزلونه یوازې د بلاغي پوهنو او ان د هندي سبک د پېچلیو رموزو او عرفاني کیلیانو په مرسته پرانیستل کېدلای نه‌شي. خوشال ختک، حمید او شیدا درې هغه شاعران دي، چې د دوی د کلام د پرانیستلو لپاره اروا‌پوهنیز، فیلوسوفیک او په لوی سر کې د بېلابېلو پوهنو پر بنسټ د تطبیقي او پرتلیزې کره کتنې اسلوبو او رویو ته اړتیا شته. هم د منځپانګې او هم د بڼې (فورم) له اړخه.

د حمید د کلام ځینې شاهکارې برخې دومره ظرافتونه لري، چې سړی فکر کوي، دغه لوی شاعر ته بې‌ځایه د موشګاف لقب ورکړل شوی نه‌دی، بلکې همدا لقب پرې زیب کا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ